مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۵/۱۱/۱۴

# د یهودو عادلانه جګړې

## (یوسل او اوومه برخه)

### له اسراییلو د امریکا ملاتړ او لویه بیه (۲)

### د عربو هېوادونو لهخوا پر امریکا د تېلو بندیز:

د ۱۹۷۳ز. کال په اکتوبر کې چې د عربو هېوادونو: مصر، سوریې او اسراییلو ترمنځ د (یوم کیپور) یا د اکتوبر په نوم جګړه روانه وه، عربي هېوادونو د سعودي عربستان په مشرۍ، د امریکا پر متحده ایالاتو، انګلستان، کاناډا، جاپان او هالند باندې، له دې کبله د تېلو بېي خلور برابره لوړې کړې چې هغوی له اسراییلو څخه په پوځي، سیاسي، اقتصادي او نورو برخو کې ملاتړ کاوه، د عربو اصلي موخه د امریکا حکومت ؤ چې له اسراییلي صهیونستانو سره یې په لوړه کچه مرستې کولې. وړاندې له هغې چې پر امریکا باندې د تېلو بندیز ولګول شي امریکایانو ته د سعودي عربستان لهخوا وړاندیز وشو چې اسراییل دې د ۱۹۶۷ز. کال د شپږ ورځنۍ جګړې پر مهال ټولې اشغالې سیمې: د مصر د سینا دښته او د سوریې د جولان لوړې اړونده هېوادونو ته وسپاري.

له بلې خوا د مصر ولسمشر انور سادات وړاندې له هغې چې له امریکایانو سره یو رسمي جوړجاړي ته ورسېږي، خپله وفاداري او اخلاص امریکا ته ښکاره کړ، سادات د امریکایانو د خوشالۍ لپاره «د۱۹۷۲ز. کال په جولای کې ټول هغه ۱۶۰۰۰ شوروي پوځي سلاکاران او کارکوونکي له مصر څخه وایستل چې په پوځي برخه کې یې د مصر له پوځ سره مرستې کولې، سادات په دې کار سره غوښتل، له امریکایانو سره خپلې اړیکې پیاوړې او له شورویانو سره اړیکې غوڅې کړي.» د هغه مهال د امریکا د بهرنیو چارو وزیر، یهودتوکمه هنري کیسینجر د سادات په دې ناڅاپي عمل حیران پاتې شو ویې ویل:**«ولې نوموړي دا مهرباني په ما وکړه؟ ولې یې تر دې مخکې د امتیازاتو غوښتنه ونه کړه؟»**[1]

لکه څرنګه چې سادات هیله درلوده چې د دغه عمل په بدل کې به امریکایان پر اسراییلو فشار راوړي څو د سینا سیمه مصر ته بېرته وسپاري، د سادات د دا ډول شورويضد عمل پر وړاندې امریکایانو هیڅ ډول غبرګون ونه کړ، هغه وو چې څه موده وروسته، د نوامبر په میاشت کې انور سادات اړ شو یو ځل بیا شوروي اتحاد ته ځان نږدې کړي او په ۱۹۷۳ز. کال کې چې غوښتل یې پر اسراییلو جګړه پیل کړي، له شوروي اتحاد څخه په لویه کچه وسلې وپېرودلې[2] چې د وسلو د پېرلو پیسې د سعودي

[1]: https://history.state.gov/historicaldocuments/frus1969-76v23/d309
[2] :https://irhj.sbu.ac.ir/article_95439_da35a10b1cd6c13a8ad5465ac5bc3927.pdf


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

عربستان له لوري ورکړل شوي. **د سعودي عربستان ملک فيصل، له انور سادات سره ژمنه کړې وه چې که له اسراييلو سره جګړه پيل شي، سعودي عربستان به د لويديځ پر وړاندې د تېلو بنديز ولګوي.**

د ۱۹۷۳ز. کال په اپرېل کې د سعودي عربستان د تېلو وزير، (احمد زکي يماني) د امريکا د بهرنيو چارو وزير هنري کيسينجر سره د ليدلو په موخه واشنګټن ته ولاړ، ورته ويې ويل چې پاچا فيصل ورځ تر بلې له امريکا خفه خواشينی کيږي، پاچا غواړي چې امريکايان دې پر اسراييلو زور واچوي څو د ۱۹۶۷ز. کال د شپږ ورځنی جګړې پر مهال تولې اشغالي سيمې عربو ته وسپاري.

سربېره پر دې، هغه مهال چې د عربو او اسراييلو ترمنځ جګړه روانه وه، د ۱۹۷۳ز. کال د اکتوبر له ۱۷مې تر ۱۹مې نېټې پورې، (عمر السقاف) د سعودي عربستان د بهرنيو چارو وزير، د الجزاير، کويت او مراکش له بهرنيو چارو وزيرانو سره يو ځای واشنګټن ته ولاړ چې امريکا ته خبرداری ورکړي چې د تېلو د بنديز عملي کېدل حتمي دی. د امريکا ولسمشر ريچارد نيکسن ژمنه وکړه چې متحده ايالات به د جګړې د هواري لپاره منځګړيتوب وکړي چې د سولې يوه عادلانه او شرافتمندانه حل لاره راوباسي.[3]

د ولسمشر نيکسن ژمنه رښتيني نه وه، هغه غوښتل عربان په خپلو ژمنو سره وغولوي او وختوژنه وکړي چې د نيکسن په نيت باندې د سعودي عربستان د بهرنيو چارو وزير هم پوه شوی ؤ، هغه «پاچا فيصل ته شکايت وکړ چې نيکسن ته د (واټرګېټ غلا) د عربو او اسراييلو ترمنځ له جګړې څخه مهمه ښکاري. **په يوه خبري غونډه کې يو امريکايي خبريال د تېلو د بنديز پر ګواښ باندې ملنډې ووهلې، هغه په سپکه وويل چې سعوديان کولی شي خپل تېل وښبي. عمر سقاف په قهر ځواب ورکړ ويې ويل: «ښه ده، موږ به دا کار وکړو!»**[4]

اسراييل چې د مصر او سوريې پر وړاندې د جګړې په اوږدو کې د انساني ځواک له درنې مرګ‌ژوبلې سره مخ وو او جګړه‌ييزو توکو ته يې ډېره اړتيا وه نو د ۱۹۷۳ز. کال د اکتوبر په ۱۸مه نېټه، د اسراييلو لومړۍ وزيره ميرمن **(ګولډا ماير)** د خپلو زيانونو د جبران په موخه، له امريکايانو څخه د (۸۵۰ ميليونو ډالرو) په ارزښت د امريکايي وسلو او مهماتو غوښتنه وکړه. **ولسمشر نيکسن د تل په څېر، پرېکړه وکړه چې يو ستر حماسي حيرانوونکی کار وکړي. هغه پر اسراييلو د ۸۵۰ ميليونو ډالرو پر ځای، شاوخوا (۲/۲ ميليارډو ډالرو) د وسلو د پلورلو غوښتنه د امريکا کانګرس ته وړاندې کړه چې د نيکسن دا غوښتنه د کانګرس له‌خوا ډېره ژر تصويب شوه.**[5]

ولسمشر نيکسن چې حکومت يې د واټرګېټ د غلا له امله (چې د ده په امر غلا شوې وه) تر سخت فشار او اغېز لاندې راغلی ؤ، هغه فکر کاوه چې اسراييلو ته د دومره لويې مرستې په ورکولو سره به د امريکايانو مخ بلې خوا ته واړوي خو نيکسن ته دغه کار څه ګټه ونه کړه او د واټرګېټ د غلا له امله استعفاء ته اړ شو.(د ۱۹۷۴ز. کال د اګست ۸مه نېټه)

---

[3]: https://history.state.gov/historicaldocuments/frus1969-76v36/d278
[4]: *Lacey, Robert (1981). The Kingdom (1st American ed.). New York: Harcourt, Brace, Jovanovich. P 410 [secondery cite]*
[5]: *هماغه*


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

نیکسن وروسته په خپلو یادښتونو کې اسراییلو ته د ورکړل شوي لویې پوځي مرستې په اړه په ویاړ سره ولیکل چې د ۱۹۷۳ز. کال په اکتوبر کې د متحده ایالاتو هوایي ځواک اسراییلو ته د وسلو او مهماتو د رسولو دومره ډېرې الوتنې وکړې چې له هغو الوتنو څخه ډېرې وې چې په ۱۹۴۸ـــ۱۹۴۹ز. کلونو کې د برلین د هوایي عملیاتو[6] پر مهال ترسره شوي وې.[7]

د امریکا لهٔخوا اسراییلو ته په دومره لویه کچه د وسلو د ورکړې له امله د سعودي عربستان پاچا فیصل، سخت په قهر شو، ملک فیصل ځکه په قهر ؤ چې اسراییلو د ۸۵۰ میلیونو ډالرو په ارزښت د وسلو غوښتنه کړې وه خو امریکایانو د ۲/۲ میلیاردو ډالرو ناغوښتل شوې وسلې اسراییلو ته ورکړې[8] چې د امریکا دا ډول ملاتړ له عربو سره د ښکاره دښمنۍ مانا لرله، **د نیکسن منافقت هغه مهال ځرګند شو چې هغه یوه ورځ وراندې له هغې چې اسراییلو ته د ۲،۲ میلیاردو ډالرو په ارزښت د وسلو د ورکړې وړاندیز کانګرس ته وړاندې کړې، له عربو سره یې ژمنه کړې وه چې د اسراییلو او عربو تر منځ به یوه (عادلانه سوله) رامنځ ته کوي، ملک فیصل د نیکسن دا ډول کړنه یو غولوونکی عمل وباله.**[9]

له اسراییلو سره د امریکا د ۲،۲ میلیاردو پوځي مرستې خبر ملک فیصل ته د ۱۹۷۳ز. کال د اکتوبر په ۱۹م مازیګر ورکړل شو، پاچا دا موضوع له خپلو دوو نږدې سلاکارانو، عبدالله بن عبدالرحمن او رشاد فرعون سره شریکه کړه. **پاچا وویل: دا ولیکئ او اعلان یې کړئ چې پر متحده ایالاتو به بشپړ بندیز عملي کېږي.**[10]

د عربي هېوادونو د تېلو د بندیز په پایله کې د تېلو په میاشتنې تولید کې کمښت رامنځ شو او تر دسمبر پورې د تېلو تولید د سپتمبر میاشتې په پرتله ۲۵ سلنې ته راټیټ شو.[11] د ۱۹۷۳ز. کال د ډسمبر ماشتې په وروستیو کې، د تېلو صادروونکو هېوادونو سازمان (OPEC) د اتریش په پلازمېنه ویېن کې غونډه وکړه او اعلان یې وکړ چې **د هر بیرل د تېلو بیه به له ۵ امریکایي ډالرو څخه ۱۱/۶۵ ډالرو ته لوړېږي.**[12]

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر کیسینجر پوه شو چې پاچا فیصل د خپلې سرسختۍ له مخې د [ویتنام د وتلي ډیپلمات] (له دوک تو) په څېر یو کس دی. پاچا پر امریکایانو تور پورې کړ چې د اسراییلو ملاتړي دي او په اوږده او تُنده وینا یې د روسیې او اسراییلو د (یهودي کمونېستانو) پر فساد او بدمرغی

---

6 : په ۱۹۴۸ او ۱۹۴۹ز. کلونو کې د برلین هوایي عملیات چې **د** برلین د هوایي پله په نوم هم یادېږي، ترسره شول. دا عملیات د لوېدیځو متحدینو (امریکا، برېتانیا او فرانسې) لهٔخوا د دې لپاره ترسره شول چې لوېدیځ برلین ته چې د شوروي اتحاد د ځواکونو لهٔخوا محاصره شوی ؤ، خواړه او سون توکي ولېږدوي، شوروي اتحاد د برلین لوېدیځې برخې ته تلونکي ځمکنۍ او سمندري لارې تړلې وې.

7: *Lacey, Robert (1981). The Kingdom (1st American ed.). New York: Harcourt, Brace, Jovanovich. P 410 [secondery cite*

8: *هماغه*

9: *هماغه*

10 هماغه، ص ۴۱۲:

11: https://www.jstor.org/stable/4537467

12: *هماغه، ص۴۱۳*


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

باندي سخته نيوکه وکړه، د کيسينجر د هڅو سره سره چي د پاچا فيصل د خوښۍ لپاره يې ترسره کړې، بيا هم هغه د تېلو بنديز تينګ وساته.[13]

ملک فېصل کيسينجر ته وويل:«د امريکا متحده ايالات تل د تېري پر وړاندې ولاړ وو، تاسو دا کار د دويمي نړۍوالي جګړې پر مهال وکړ او هم مو د ۱۹۵۶ز. کال د سويز[14] د جګړې پر مهال کړی دی، که امريکا له ۱۹۶۷ز. کال څخه وروسته همدا کار کړی وای، موږ به د اوسني ناوړه او خواشينوونکي حالت شاهدان نه وو... .

ملک فيصل، کيسينجر ته د يهودانو د څورونو ځيني تاريخ پېښې هم يادې کړې او له دوی سره د مسلمانانو د خواخوږۍ په اړه يې وويل چي د يهودي دولت له جوړېدو وړاندې هېڅ داسې څه نه وو چي د عربو او يهودانو ترمنځ بنو اړيکو ته زيان ورسوي، ډېری يهودان په عربي هېوادونو کې اوسېدل، هغه مهال چي يهودان په اسپانيا کې تر ظلم لاندې راغلل، عربانو يې ملاتړ وکړ، کله چې روميانو يهودان وشړل، عربانو يې ساتنه وکړه.

پاچا فېصل اسراييل کمونستان وبلل ويې ويل چي «ستالين د يالتا په [غونډه] کي ويلي وو چي بايد يو يهودی دولت جوړ شي... اسراييل د کمونيزم اهداف پرمخ وړي... د يهودانو په منځ کې داسې کسان شته چي صهيونيزم يې منلی دی... ډېری کډوال له شوروي اتحاد څخه اسراييلو ته راځي... هغوی غواړي د منځني ختيځ په زړه کې يوه کمونيستي اډه جوړه کړي... اوس‌مهال يهودان په دې هڅه کې دي چي پر ټوله نړۍ واکمن شي.»[15]

کله چي ملک فېصل د تېلو بنديز همداسې جاري وساته نو **«د امريکا د دفاع وزير (جېمز شلېزينګر) کيسينجر ته وړانديز وکړ چي متحده ايالات دې پر سعودي عربستان او نورو عربي هېوادونو يرغل وکړي او د هغوی د تېلو سيمي دې لاندې کړي. کيسينجر د بهرنيو چارو وزارت، په يوه غونډه کې وويل:«خندونکی ملنډي دي چي متمدنه نړۍ د اتو ميليونو وحشي انسانانو [عربانو] لهخوا يرغمل نيول شوي ده... آيا موږ نه شو کولای يو شيخ راوپرځوو، د دې لپاره چي موږ يوازې وښيو دا کار کولای شو؟» هغه وو چي امريکايانو د ابوظبي، کويت او سعودي عربستان د نيولو لپاره يوه طرحه جوړه کړه.** [16] کيسينجر د ۱۹۷۳ز. کال د نومبر په ۲۱مه نېټه، په يوه خبري غونډه کې په ښکاره توګه ګواښ وکړ چي که بنديز لغوه نه شي پر وړاندې به يې غبرګون ترسره کړي.

د امريکا د دغه ګواښ پر وړاندې سعودي عربستان غبرګون وښود او ګوتڅنډنه يې وکړه چي که متحده ايالات پوځي بريد وکړي نو دوی به د تېلو په توليد کې نور کمښت راولي او **د خپلو تېلو سيمو ته به اورونه واچوي.**

---

13: *مماخذ، ۶۱۸ ـ ۶۱۹*
14: د سويز کانال بحران، ۱۹۵۶ز. کال: د مصر پر وړاندې، انګلستان، فرانسي او اسراييل جګړه پيل کړه او امريکا بې‌پرې پاتي شوه. (د ليکنو اووه شپېتمه برخه ولولئ.)
15: *مماخذ، ۶۱۸*
16: https://www.washingtonpost.com/archive/politics/2004/01/01/us-mulled-seizing-oil-fields-in-73/0661ef3e-027e-4758-9c41-90a40bbcfc4d /


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کله چې د سعودي عربستان دغه ګواښونه د سي‌آی‌ای لهخوا ربښتني وبلل شول نو کیسینجر له یوځي مداخلې لاس واخیست، پرېکړه یې وکړه چې د اسراییلو د ځواکونو د وتلو په هکله کار وکړي او د تېلو د بندیز د حل په اړه ډیپلوماتیکي لارې چارې ولټوي.[17]

سعودي عربستان د نړۍ ٪۲۵ تېل درلود. په ۱۹۷۳ز. کال کې متحده ایالاتو شاوخوا ٪۲۵ تېل له عربي هېوادونو څخه واردول.[18]

د تېلو د بندیز اغېز سملاسي څرګند شو، د تېلو کنټرول **(د تېلو د وسلې)** په نوم یاد شو، دا وسله د عربو هېوادونو لهخوا د بندیز او د تولید د کمښت په بڼه، د امریکا، انګلستان، کاناډا، جاپان او هالند پر وړاندې وکارول شوه.

دا بندیز، د نړیوال اقتصادي بحران، د امریکا او څو اروپایي متحدینو ترمنځ د اړیکو د ترینګلتیا سبب شو، **څکه چې ډېرو اروپایي هېوادونو امریکایان د دې بندیز عاملین بلل چې امریکایان اسراییلو ته بې‌قید او شرطه مرستې ورکړې وې.**[19]

د تېلو بندیز د فلسطین د مسئلې پر لور ناڅاپي پاملرنه راواړوله. د ۱۹۷۳ او ۱۹۸۱ز. کلونو ترمنځ، **سعودي عربستان د فلسطین د آزادی سازمان (PLO) ته د یو میلیارد امریکایي ډالرو په ارزښت مرسته ورکړه** چې په دې توګه د دریېمې نړۍ له ډېرو هېوادونو څخه یې زیاته بودجه درلوده.[20]

د بندیز له پیل وروسته په دوو اونیو کې، **د اروپا اقتصادي ټولنې (چې اوس د اروپایي اتحادیې په نوم یادیږي) د ټولو هېوادونو، د بهرنیو چارو وزیران په یوه غونډه کې سره راټول شول او یوه اعلامیه یې خپره کړه چې په هغې کې راغلي وو چې اسراییل دې د ۱۹۶۷ز، کال راپه دېخوا له ټولو اشغالي سیمو څخه ځواکونه وباسي.**[21]

**د عربو د تېلو صادرونکو هېوادونو سازمان(OAPEC) هم غوښتنه وکړه چې اسراییل دې له ټولو هغو سیمو څخه په بشپړ ډول ووځي چې د ۱۹۴۹ز. کال د اوربند له کرښې هاخوا یې اشغال کړې دي.**[22]

د ۱۹۷۳ز. کال د دسمبر په ۱۱مه نېټه د جاپان د بهرنیو چارو وزیر، (ماسایوشي اوهیرا) د دوه اړخیزو اړیکو د بښه‌والي په موخه له پاچا فیصل سره وکتل. لږ وروسته، د فرانسې د بهرنیو چارو وزیر، (میشل

[17] :https://newlinesmag.com/argument/how-henry-kissinger-bungled-the-arab-oil-embargo/

[18]: *Shwadran, Benjamin (2019). Middle East Oil Crises Since 1973. London: Routledge.* [Secondery Reference]

[19]: بریتانیا، اتحاد ترانس آتلانتیک و جنگ اعراب و اسرائیل در سال ۱۹۷۳[انګلیسي]
http://muse.jhu.edu/article/237150

[20]: *Lacey, Robert (1981). The Kingdom (1st American ed.). New York: Harcourt, Brace, Jovanovich.* P 446

[21]: *هماغه ۴۱۵*

[22]: https://en.wikipedia.org/wiki/1973_oil_crisis#cite_ref-MERIP_56-0


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ژوبر) سعودي عربستان ته راغی ترڅو هغه تړون لاسلیک کړي چې د راتلونکو شلو کلونو لپاره یې د فرانسې د تېلو اړتیاوې پوره کولې.[23]

امریکا د دغه بندیز له کبله هم تر یو ځایه مالي او سیاسي زیانونو سره مخ شوه، په ۱۹۷۵ز. کال کې د امریکا د فدرالي انرژی اداري په یو راپور کې چې کانګرس ته وړاندې شو، په کې اټکل شوی ؤ چې په ۱۹۷۳–۱۹۷۴ز. کلونو کې **د تېلو د بندیز له امله شاوخوا ۵۰۰ زرو امریکایانو خپلې دندې له لاسه ورکړې او د امریکا ناخالص کورني تولید ته یې د ۱۰ تر ۲۰ میلیاردو ډالرو ترمنځ زیان ورساوه.**[24]

دغه بندیز د ۱۹۷۳ز. کال له اکتوبر څخه د ۱۹۷۴ز. کال تر مارچ میاشتې پورې دوام وکړ. **له بده مرغه چې د پاچا فیصل دغه تاریخي او زړور ګام چې د امریکا پر وړاندې یې کړی ؤ، د ده د مرګ په بیه تمام شو او د ۱۹۷۵ز. کال د مارچ په ۲۵مه نېټه د خپل وراره له‌خوا ووژل شو.** ډېری څېړونکي او د سعودي عربستان وګړي په دې باور دي چې شهید شاه فیصل د تېلو د بندیز له امله ووژل شو. هغه د سي‌آی‌اې ترهګرې اداري په لمسون ترور کړای شو. (د ملک فیصل د ترور په اړه په تېرو لیکنو د سي‌آی‌اې د تروروتو په لړۍ کې وزیات شي.)

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هنري کیسینجر چې یو یهود توکمه او له اسراییلو سره یې د زړه له کومې خواخوږي درلودله، له اسراییلو سره د مرستو اصلي کس ؤ، نوموړي څو کلونه وروسته په دغه کار خپله پښیماني څرګنده کړه چې په حقیقت دغې پښیمانۍ یوه نمایشي بڼه لرله، هغه په کال ۱۹۸۱ز. کې د انګلستان له یو تاریخپوه (رابرټ لیسي) سره په یوه مرکه کې اسراییلو ته د وسلو د لېږد په اړه وویل:**«ما تېروتنه وکړه. که اوس شاته وګورو، دا زموږ له پامه غورځېدلي او ناسمه پرېکړه وه.»**[25]

نېټه:۱۴۰۴/۸/۲۴ل. ل

**نور بیا**

[د ښاغلي محمد انور اخڼ نوري لیکني په دی لینک کي ولولی.]()

---

23: *Lacey, Robert (1981). The Kingdom (1st American ed.). New York: Harcourt, Brace, Jovanovich.* (p415-416)

24: *Shwadran, Benjamin (2019). Middle East Oil Crises Since 1973. London: Routledge.* P58

25: *هماغه، ۴۱۱*



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ